# رښتيني رهبران پرېږه پر خلکو نه ور اړوي

**خبر:**

اسلام اباد: په داسې  حال کې چې د کرونا ويروس پېښې مخ پر زياتېدو دي او ګرځبنديز هم په دې موخه جبري شوی چې دغه مرګونی ويروس کنټرول ګړي، خو بيا هم د هېواد په کچه په تېرو ۲۴ ساعتونو کې له ۹۵۳۲ زياتې پېښې ليدل شوي او خلک له صحي لارښوونو سرغړونه هم کوي. (سرچينه: ډان)

**تبصره:**

د نورې نړۍ په څېر پاکستان هم کرونا وايرس سخت ځپلی، خو کوم څه چې پاکستان به زيات وځپي هغه د ښکېلو چاراواکو ناسم مديريت دی. په پاکستان کې له لومړۍ ورځې کرونا ويروس سم مديريت نه شو. په داسې يوه هېواد کې چې په ميليونونو خلک يې د فقر تر کرښې لاندې ژوند کوي، خلک يوازې پرېښودل شول، تر څو ځانونه او نږدې کسان پخپله وژغوري. SOP (د عملياتو معياري طرزالعمل) اعلان شو، خو وروسته ترې کوم نظارت او ارزونه نه ده شوې.  دولت ګومان کوي چې د دوی دنده يوازې اعلان دی او عملي کار ته اړتيا نشته. په پايله کي ليدل کېږي چې بازارونه له ګڼې ګوڼې ډک دي. ګڼ مېشتي سيمې کاملاً د دولت لخوا له پامه غورځول شوي او نه هم کومو چاراواکو له دغو سيمو څخه ليدنه کړې. کوم څه چې موږ په لاس کې لرو يوازې ځيني ارقام او محاسبې دي چې د ځانګړو سيمو له پلټنې څخه لاسته راغلي دي. څوک نه پوهېږي، يا په دې اړه له سره غور نه کوي چې په ګڼ مېشتو او بې پلانه ابادو شويو سيمو کې څومره سرغړونې شوي.

د پاکستان خلک په ښکاره د دولت له لوري ملامتېږي، چې بې پروايي کوي او د ځان ساتنه نه کوي. د دولت له لوري موږ يوازې د خبري کنفرانسونو او د «احساس پروګرام» مخ ته وړل وينو، چې يوازې بې وزلو ته بې ځايه هيلې ورکوي. لومړی وزير عمران خان ګومان کوي دا کار د شهرت ګټولو يوه ښه لار ده. اړين بېړني روغتيايي توکي چې د ماليه ورکونکو په پيسو رانيول شوي يا هم د مرستې په بڼه ترلاسه شوي، په اړه يې د دولت له لورې ډېرې لاپې وهل کېږي. خو بيا هم په هره سيمه کې خلک له ستونزو سره لاس او ګرېوان دي.

ډاکټرانو په نه ستړې کېدونکي ډول چوپړ ته ملا تړلې او ګنو يې د نورو د ژغورلو پر مهال خپل ژوند له لاسه ورکړی. تر اوسه په ټول پاکستان کې تر اوو زرو زيات ډاکټران او روغتيايي کارکوونکي د کوويډ- ۱۹ له امله تشخيص شوي. دغو ډاکټرانو ته اړينې ژغورونکي بستې نه دي برابري شوي او په ځينو مواردو کې، کله چې ډاکټران پر دغه ناروغۍ اخته شوي، د هغو روغتونونو له لوري بيرته ځواب شوي، چې دوی مخکې خدمت پکې کاوه. روغتونونه له ګڼې ګوڼې ډک دي او خلک پر ويروس له اخته کېدو څخه ويره لري. خلک پر ناروغۍ تر

اخته کېدو زیاته وېره درملنې څخه لري، ځکه له ډېرو ناروغانو سره بې غوري شوې او د مرستې لټولو پر مهال يې ژوند له لاسه ورکړی دی.

د پاکستان خلک بې وزله دي، خو کمعقلان نه دي. دوی هغه نسل دی چې پلرونو يې د برصغير د مسلمانانو د ازادۍ لپاره قرباني ورکړې ده. ډېرو يې داسې بېلګې پرې ايښي چې د اړتيا پر وخت يې د اړمنو لاسنوی کړی. ډاکتران د انټرنيټ په مټ ناروغانو ته په وړيا ډول خدمات وړاندې کوي. موږ وليدل چې څه ډول خلکو اړمنو کسانو ته خواړه وېشل او ان موږ داسې خلک وليدل چې خپلو کارکونکو ته يې پر داسې مهال هم تنخوا ورکوله چې دوی ته يې نور کار نه شو کولای. ډېرو خلکو په خپل مټ ډېر کارونه وکړل چې لا هم کفايت نه کوي، ځکه دوی اړينې سرچينې او ځواک نه لري چې له روان حالت سره مبارزه وکړي.

که اوس نه وي، نو کله؟ د پاکستان مسلمانانو د عمران خان اصلي څېره وليده، چې د رياست مدينه په شعار يې رايي ترلاسه کړې، خو په اصل کې کفارو ته ژمن و. پرېږدئ چې عمران خان د ډيموکراسۍ پر تابوت ورستی مېخ شي. راځئ، د دې طاغوتي حاکميت پر وړاندې راپورته شو او خلافت تاسيس کړو، چې د خپلو خلکو د روغتيا مسووليت به په غاړه لري. په تاريخ کې د دې ډېرې بېلګې شته، چې خلافت خپلو خلکو ته روغتيايي چوپړونه برابر کړي دي. خليفه به دا يقيني کړي چې خلک به د لوږې او وبا پر مهال د غفلت له امله نه مري. خليفه به دا يقيني کړي چې خلک کافي روغتيايي اسانتياوې تر لاسه کړي. د ده اندېښنه به دا نه وي چې په راتلونکو ټاکنو کې خپله بريا وساتي، بلکې اندېښنه به يې دا وي چې د الله سبحانه وتعالی پر وړاندې خپل موقف خوندي کړي.

لکه څنګه چې عمر ابن الخطاب فرمايي: «که د فرات پر غاړه يو سپی له لوږې مړ شي، دا په دې مانا چې ما په خپله دنده کې غفلت کړی.» الله سبحانه وتعالی دې موږ ته دغه ډول رښتنې رهبري را په برخه کړي.

يوازې يو داسې دولت، چې د رسول صلی الله عليه وسلم پر منهج رامنځته شوی وي، پرته له دې چې د چا عزت او حيثيت ته زيان ورسوي، دغه راز د دې وړتيا لري چې دا ډول ناورينونو ته اوړه ورکړي. عمر بن الخطاب روايت کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

**«أَلاَ أُخْبِرُكُمْ بِخِيَارِ أُمَرَائِكُمْ وَشِرَارِهِمْ؟ خِيَارُهُمُ الَّذِينَ تُحِبُّونَهُمْ وَيُحِبُّونَكُمْ وَتَدْعُونَ لَهُمْ وَيَدْعُونَ لَكُمْ، وَشِرَارُ أُمَرَائِكُمُ الَّذِينَ تُبْغِضُونَهُمْ وَيُبْغِضُونَكُمْ وَتَلْعَنُونَهُمْ وَيَلْعَنُونَكُمْ»**

***ژباړه:*** *تاسو ته ستاسو نبه او بد اميران در ونه پېژنم؛ نبه اميران هغه دي چې تاسو دوی خوښوئ او دوی تاسو. تاسو پر هغوی سلام وايست او هغوی پر تاسو. بد اميران هغه دي چې تاسو له دوی څخه کرکه لرئ او دوی له تاسو، تاسو پر هغوی لعنت وايست او هغوی پر تاسو.*

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**ليکوال: اېخلاق جهان**